ليکوال: هاري
واشنگټن 23/02/2009

# د اوباما جنګ

پدې اونۍ کي، د غربي مطبوعاتو فوکس افغانستان ته د اضافه امريکايي عسکرو استول، د افغانانو عامه افکارو د نوي سروې بد نتايج، او د افغانستان په اړه د ښاغلي اوباما د پاليسۍ شکل او جهت دي. د اوباما د ادارې ټول عالي رتبه غړي افغانستان او پاکستان مغلق او پيچلي چلنچونه بولي. ټول د اوږدې مودې خبري کوي، او په عمومي پاليسۍ کي هر اړخيز بدلون غواړي. ګرده اعتراف کوي چي يوازي پوځي عمليات او وژل کاميابي نه حتمي کوي. ټول د مخالفانو سره د خبرو کولو مفکوره تاييدوي. نور حتی پر ديموکراسۍ باندي هم زيات او بېځايه ټينګار نه کيږي. په رشتيا هم د افغانستان حالات ډېر خطرناکه دی. د افغانستان او پاکستان پيښې او شرايط اورګانيک تړاو سره لري. که چيري په افغانستان کي د طالبانو او القاعدې ختمول غواړئ، مجبوره ياست چي په پاکستان کي هم د هغوی پوځي اډې او د سبب ځايونه بند او تباه کړئ. اسلامي افراطيت او القاعديزم په پښتني سيمو کي په اجتماعي، سياسي، او فرهنګي ناسور بدل سوی دی. ټول پښتانه يې د تمدن او پرمختګ له کاروان څخه شاته اچولي دي. په سيمه کي يې دايمي سياسي او پوځي بحران او کشمکش جوړ کړی دی.

په هر حال، تر اوسه پوري د ښاغلي اوباما ټيم ښه او جوړونکي ګامونه اخيستي دي. ښاغلي اوباما هڅه کړېده چي د اسلامي نړۍ سره د متحده اياﻻتو په پاليسۍ کي تجديد نظر او بدلون راولي. اوباما څو واري په خپلو ويناوو کي اسلامي نړۍ په خاصه توګه ياده کړې ده. ښه نيت او دوستي يې څرګنده کړې ده. د متحده اياﻻتو د بهرنيو چارو وزيري، مېرمن هيلري کلنټن هم اندونيزيا ته پخپل لمړي خارجي سفر کي د اسلام او مسلمانانو سره د دوستۍ او همکارۍ وعدې ورکړې. هغې وويل د اسلام،مډرنتي، او ازادۍ تر مينځ تضاد نسته. په اندونيزيا کي، د مېرمن کلنټن د خبرو او ژمنو تود هر کلی وسو.

همدا راز، د افغانستان په متعلق د اوباما وروستۍ فيصلې او خبري هم ښې او سمي دي. فعلا، په واشنګټن کي د افغانستان د راتلونکې حکومت د نوي مشرۍ په باب غور کيږي. مګر څه چي د آينده حکومت د جوړښت په اړه په ازادو مطبوعاتو کي خپاره کيږي، تشويق کونکي دي. د اوباما ادارې منلې ده چي افغانستان زياتو منابعو او نوې ډيپلوماسۍ ته اړتيا لري. د اوباما اداره غواړي چي په افغانستان کي د مرکزي حکومت پر ځای واليان او محلي مشران تقويه کړي. مانا دا چي لمړی د څو قوي واليانو او مخورو ځايي مشرانو سره مرسته او همکاري وکړي، او بيا د هغوی له مينځه يو انتخاب کړي.

زما په نظر د قوي مرکزي حکومت مفکوره عملي او چټکه ده، ځکه که چيري مشر سم سي، نور هر څه خپله سمېږي. سياسي عمليه لنډه او ګړندۍ کوي. د افغانستان په شان په وروستو پاتو ټولنو کي مشر او مرکز حياتي اهميت لري. اوس به راسو د غربي مطبوعاتو د مقالو اجمال ته.

د واشنګټن پوسټ ورځپاڼه د فبروري پر ۲۲ ليکي: په افغانستان کي، د امريکا نوم او ښان ته صدمه رسېدلې ده. ۱۷۰۰۰ نور اضافه امريکايي عسکر به نه يوازي د جنګي طالبانو سره مخامخ سي، بلکي تر ټولو مهمه د عامه افغانانو د قهر او غوسې سره به هم مخامخ وي. د (بي بي سي) او ( اې بي سي) نيوز د عامه افکارو نوې سروې ښيي چي قريب ۹۰ فيصده افغانان د طالبانو مخالف دي، پنځوس فيصده امريکايان نه غواړي، او ۲۵ فيصده وايي چي پر خارجي قواوو باندي بريدونه موجه او درست دي.

په مرکو کي، افغانان ځانمرګي حملې غندي. دغه راز، د امريکايي قواوو د تلاښيو او بمباريو هم په غوسه کړي دي. د افغانانو قهر په داسي وخت کي زياتېږي چي د اوباما حکومت غواړي چي محلي خلک د ځان کړي څو د طالبانو مخه ونيسي. افغانان په زياتېدونکې توګه د شپې په تيارو کي د امريکايي عسکرو تلاښيو او توفيقونو سخت په غوسه کړيدي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

یو افغان وایي: تېره میاشت زه له جلال اباد څخه کابل ته را روان وم. ناڅاپه د امریکایي عسکرو کتار د کابل له خوا را ښکاره سو. لمړی یې بتۍ لګولي او بیا یې وژلي، بیا یې زموږ. مخته پر سرک باندي ډزي پیل کړې. آخر، دا زما ملک دی. دا زما سړکان دي. ایا زه پخپل هېواد کي ازاد او په امنیت کي د سفر کولو اجازه لرم او کنه؟

افغانان ښېره لري چي د خارجي قواوو زیاتوالی به د ځانمرګي حملو ګراف لا جګ کړي. زیاتره مرکه سوي افغانان د طالبانو سره د روغي جوړي پلویان کوي. افغانان په سوات کي د ځایي طالبانو او پاکستاني حکومت موافقه جدي څاري. هلته د امنیت په بدل کي شرعیت عملي کېږي. د سوات معاملي په باب ښاغلي هولبروک اندېښنه څرګنده کړېده، خو جنرال پتریس ویلي دي چي په افغانستان کي د سوات غوندي معاملو ته چمتو دی.

بل پلو، د نیویاک ټایمز اخبار د فبروري پر ۲۰ پخپله سرمقاله کي لیکي: ښاغلي اوباما او ټیم یې د افغانستان د پالیسی په غور لګیا دي. افغانستان د بوش د تباه کونکو پالیسیو میراث دی چي اوباما ته پاته دی. هلته شرایط پداسي سرعت خرابېږي چي اوباما مجبوره سو چي د پالیسۍ د غور تر ختمېدو د مخه هغه هېواد ته ۱۷۰۰۰ اضافه عسکر واستوي. اوباما مجبوره دی چي یا د کابل مرکزي حکومت تقویه کړي او یا والیان او محلي مشران. د کرزي بدو پالیسیو ډلي-ډلي افغانان د افراطیت غېږي ته ور ټېله کوي.

پدې تېرو اونیو کي امریکایي قومندانانو د ځینو "اصلاح سویو" طالبانو سره تماسونه ډېر کړي دي. ښایي بله چاره هم نه وي. مګر د اوباما تر ټولو ستر چلنج دا دی چي څرنګه پاکستان پدې راضي کړي چي د مذهبي افراطیانو او القاعدیزم پر خلاف جګړه یوازي د متحده ایالاتو په ګټه نده، بلکي د پاکستان لپاره هم حیاتي مسله ده.

د اکانومیسټ مجله د فبروري پر ۱۹ باندي د "طالبانو سره مقابله" تر عنوان لاندي لیکي: اوس نو هر چا ته دا څرګنده سوې ده چي د طالبانو سره جګړه یوازي د افغانستان په سرحدونو کي دننه نسي ګټل کېدلای. تر هغه وخت پوري چي د پاکستان په ازادو قبایلي سیمو کي طالبان او نور مذهبي افراطیان د سبب او ارام ځای لري، افغانستان او غرب به هیڅکله هم ارام خوب و نه کړي. د افغانستان په دایمي حل کي به ضرور د ایران، روسیې، او هند ګټې هم شاملي وي. دخوشحالی خبره دا ده چي ښاغلي اوباما پر "سیمه ایز" حل باندي ټینګار کوي. دغه راز، د پخواني او باتجربه کاره ډیلومات ریچارډ هولبروک مقرري هم سم کار دی. د ۱۷۰۰۰ عسکرو د استولو فیصله د وضعي خرابي ښیي.

مجله لیکي: د بري تعریف لږ تر لږه هره میاشت یوه خانه را کښته کېږي، خو بیاهم لیري او بعید ښکاري. تر ټولو بده خو لا دا چي په پاکستان کي د طالبانایزېشن پروسې زور اخیستی دی، حال دا چي پاکستان ذروي وسلي او ۱۷۰ میلونه نفوس لري. مګر په پاکستان کي د طالبانو او ملایانو حاکمیت کمه تر کمه څه لیري ښکاري، ځکه د پاکستان په با نفوسه سیمو کي مذهبي افراطیان چندان محبوبیت او نوم او نښان نلري. حتی په صوبي سرحد کي هم ملایانو په انتخاباتو کي ماتي وخوړله. عامه پاکستانیانو عموما په انتخاباتو کي اخواني او مذهبي احزاب شرمولي دي. عموما، پاکستاني ملکي سیاستوال د ملایانو او مذهبي ډلو سره څه په زغرده مخالفت کوي، خو د پاکستان پوځ د مذهبي ډلو تر شا ولاړ وي. د پوځ اوږده حاکمیت اوسنی ستونزي خلق کړي.

که څه هم د پاکستان د طالبانایزشن تهدید څه مبالغه ښکاري، خو د طالبانو خطر کم شمېرل هم سم کار ندی. طالبانو د افغانستان او پاکستان د سرحدونو په اړدو کي، په صوبي سرحد کي، او پدې اونی کي په سوات کي ستره سیاسي سوبه تر لاسه کړه. پاکستان اوس هم نه غواړي چي په پښتني سیمو کي د طالبانو پر خلاف موثر عملیات وکړي، ځکه پاکستان طالبان د افغانستان لپاره د "ستراتیژیکي پانګې" په شان ساتلي دي.

په افغانستان کي، د بري لپاره اضافه عسکرو ته اړتیا سته، ځکه زیات عسکر به بمباری کمي کړي. بمباریو کي ملکي کسان وژل کېږي، د ملکي خلکو وژل د طالبانو سره مرسته کوي. مګر یوازي عسکر میدان نسي ګټلای. د انکشافي پروژو ډېرول، د ځایي او قومي خلکو سره خبري اتري کول، او طالبان د سولي په پروسه کي را داخلول میدان ګټي.

همدا راز، د اکانومیسټ مجله د فبروري پر ۱۹ په یوې بلې مقالي کي لیکي: که څه هم امریکا لګیا ده افغانستان ته زیات عسکر لېږي او هم افغان پوځ روزي، خو بیا هم د طالبانو په ماتولو کي له ستونزو سره مخامخه ده. مجله لمړی د شوروي او امریکا اشغالونه سره مقایسه کوي، او بیا وایي: که څه هم تاریخ او اوسني خراب حالات ښه زیری نلري،


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

خو بیاهم امریکایي قومندانان فکر کوي چي په افغانستان کي کامیابي تر لاسه کېدای سي. هغوی استدلال کوي او وايي: طالبان د مجاهدینو په شان یو سوپر پاور حامي نلري، او حتی اوس هم په عامه افغانانو کي ډېر پلویان نلري.

بلخوا، په متحده ایالاتو کي د نېشن مجله د فبروري پر ۱۸ د دغه جریدې په ویب پاڼه کي د مشهوري مترقي دیموکرات لیکوالي، مېرمن کترینا ویندین هیویل، په قلم د ښاغلي اوباما پر هغي فیصلې باندي انتقاد کوي چي افغانستان ته ۱۷۰۰۰ امریکایي عسکرو د سمدستي استولو امر کوي. مېرمن کترینا لیکي: سوال دا دی چي جمهورریس اوباما حتی د هغو ستراتیژیک څېړنو د نتایجو خپرېدو ته لا معطل نه سو چي همدا اوس په واشنګټن کي رواني دي. دوې لسییزي پخوا شوروي دلته ورانونکې ماته وخوړه. خپله اوباما بار بار ویلي دي چي د افغانستان بحران ته نظامي حل نسته. نو بیا د جنګ پراخول او د عسکر وزیاتول څه مانا لري؟.

مېرمن کترنیا زیاتوي: د اشغال پراخول به موږ له هغو قیمتي منابعو څخه محروم کړي چي دلته دننه په امریکا کي ورته سخته اړتیا لرو. د اشغال پراخول به پاکستان لا بې ثباته کړي، د ناټو او زموږ تر منیځ به کشمکش او لانجه لا زور واخلي، او په اسلامي نړۍ کي به د امریکا په وړاندي هغه نوي ښه نیت کمزوري کړي چي د عراق څخه د امریکایي عسکرو د را ایستلو پروسې را پیدا کړی دی. د عسکرو زیاتوالی به نه زموږ او نه هم د افغانانو امنیت تامین کړي، بلکي اضافه عسکر به ضروري د ملکي کسانو مرګ ژوبله لا ډېره کړي. کله چي اوباما د عسکرو د لیږولو اعلان وکړی، په هغه ورځ، ملګرو ملتونو اعلان وکړ چي تېر کال د ملکي افغانانو په وژولو کي ٤٠ فیصده ډېروالی راغلی دی. زیاتره دغه وژني زموږ د بمباریو له کبله را مینځته کیږي.

تر نن ورځي پوري، د افغان جنګ په جورج ډبلیو بوش پوري اړه لرله، مګر د اوباما وروستی فیصلې دا وښوده چي د افغان جګړه ګویا د ښاغلي اوباما په جنګ بدلیږي. جمهورریس اوباما، دا جنګ مه خپلوئ!


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de